






## محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : ۱۸ مارچ ۲۰۱۴ ميلادی

# خپــل ځان مه خرڅوی

آباد کـــړی دا وطن ګوری خپل ځان مه خرڅوی
شيطان ته مو خپل روح او خپل ايمان مه خرڅوی

وطن مو کړ ليـــلام خپل او پردی ته حيا نشته ده
په تيټ او يا په جيـــــــک بيه افغان مه خرڅوی

ډالر خو تش کاغذ دی له وجدانه يی جيګ مه ګڼی
په تش کاغذ ضميـــر او خپل وجدان مه خرڅوی

وطن کی اجنبی شول اجنبی ملک خو لا پريږده ته
نور خپـــــل ګڼی دا وړی ماشومان مه خر څوی

بس کړی ای مومنو د پردی په ډول نـڅا مه کړی
له خدايه وډاريږی خپل ايمـــــــان مه خرڅوی

محب وايی پردی څه – خپل دوستان تاسی نه پيژنی
ټينګ اوسی دوستــی کی خپل ياران مه خرڅوی
****
محب الرحمن « خطيبي »
۲۰۱۳



هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند ځرګندوی
استفاده از مطالب سايت « ارګان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعيد افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است